سلطان جان کلیوال ۲۰۲۱/۰۱/۱۱

# اندیښنې

د ځواني شپې وې په سودا تیرې شې
څه په ژړا څه په خندا تیرې شې

یوځه لا هم د کوم وصلت په خیال کی
په شوګیرونو تر سبا تیرې شې

د پیغورونو هغه سختې شپېې
بیا راتازه شي بیا په ما تیرې شې

څلویښت کلنې تورې تورې کاغې
زما د سر د پاسه بیا تیرې شې

د قاتلانو نوې نوې ډلې
بیا د دی وران کلی په خوا تیرې شې

د وزرماتو توتکیو سېلونه
وینمه خوب چې په هوا تیرې شې

مرې اندیښنې د کلیوال په زړه کی
بلې ، ژړا ته د بودا تیرې شې.

جنوری/۲۰۲۱
کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ